مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۰۱** (از ۲۷ جدی الی ۴ دلو ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**افغانستان او چین؛ د نړۍ پر بام نښلول شوي ګاونډیان**

- د سړې جګړې پر مهال افغان-چین اړیکي (۱۹۵۰-۱۹۹۱) ........ ۴
- له سړې جګړې وروسته اړیکي (۱۹۹۱-۲۰۱۵) ........ ۴
- حامد کرزی؛ د نویو اړیکو بنسټګر ........ ۵
- چین؛ د اشرف غني د کورني او بهرني سیاست مهم لوبغاړی ........ ۵

**کابینه؛ دیر آمد درست نیامد!**

- کاهش اعتماد مردم بر حکومت وحدت ملی ........ ۷
- پس از ۱۰۴ روز ........ ۸
- مشکل کابینهٔ پیشنهادی با پارلمان ........ ۹


ACKU

# مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، د افغان-چین اړیکو د شپېتمې کلیزې په مناسبت، د دغو دوو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ د اړیکو مخینې او راتلونکې او همدا راز د ملي وحدت حکومت له خوا معرفي شوې کابینې د نوماندو وزیرانو په اړه موجودو ستونزو په تړاو، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د څېړنیزې څانګې شننې لولئ.

په افغانستان کې د نوي حکومت له جوړېدو سره، په افغانستان کې په تېره بیا د سولې په بهیر کې د چین د مثبت او اغېزناک رول په اړه هیلې زیاتې شوې دي. له همدې امله ولسمشر اشرف غني هم د افغانستان-چین اړیکو د شپېتمې کلیزې او د پښتو-چینایي قاموس د چاپېدو په تړاو جوړه شوې غونډه کې په ډاډ سره وویل، چې چین به په راتلونکو وختونو کې د افغانستان د سولې په اړه مهم ګامونه اوچت کړي.

د دې ترڅنګ له اوږده ځنډ او د ملي وحدت حکومت له خپلمنځي اختلافاتو وروسته اعلان شوې کابینې هم ګڼې ستونزې له ځان سره درلودې. یو شمېر کړی، د ملي وحدت حکومت د دوو مشرانو له خوا د کابینې پر تقسیماتو خوښ نه دي او ترڅنګ یې د همدغو پېژندل شوو نوماند وزیرانو په اړه هم ګڼې ستونزې موجودې دي.

چین د تاریخ په اوږدو کې له افغانستان سره څه ډول اړیکې لرلې دي؟ او اوس په افغانستان کې د چین رول او ارزښت د کومو لاملونو له مخې زیات شوی؟ دا او ځینې نور هغه موضوعات دي، چې دلته یې د شننو تفصیل لولئ:

ACKU

# افغانستان او چين؛ د نړۍ پر بام نښلول شوي ګاونډيان




د افغانستان او «چين د خلکو جمهوريت» پر اړيکو شپږ لسيزې واوښتې؛ خو له تاريخي پلوه بيا دواړه هېوادونه له يو بل سره د ډېرو لرغونو فرهنګي او اقتصادي اړيکو سابقه لري. افغانان له ډېر پخوا څخه له چين سره آشنا دي؛ د دواړو هېوادونو ترمنځ سياسي اړيکې له ميلاد څخه ۱۳۰ کاله وړاندې هغه مهال پيل شوې، چې کله د چين د امپراتورۍ سفير افغانستان ته راغی. دغه دواړه ګاونډي هېوادونه د اقتصادي اړيکو له پلوه هم هغه مهال سره وتړل شول، چې کله د «ورېښمو» مشهوره لار له چين څخه پيل او له افغانستانه په تېرېدو سره منځنۍ آسيا، اروپا او افريقا ته ورسېده.

په مذهبي اړخ کې، د کوشانيانو په وخت کې چين ته د بودايي دين ترويج هم د افغانستان له لارې وشو او وروسته بيا چينايي ترکستان ته هم، د افغانستان له لارې د اسلام دين ورسول شو، چې دا لنډه تاريخي يادونه د دواړو هېوادونو ترمنځ د روابطو پخواني تړاوونه په ښه توګه روښانه کوي.

په وروستۍ پېړۍ کې په چين کې د «ماو زي تونګ» له خوا د يوه کمونستي انقلاب بنسټ کېښودل شو، چې افغانستان له کوم فشار پرته دغه کمونستي انقلاب، له خپل انقلاب څخه دوې مياشتې وروسته، په رسميت وپېژانده چې د ښو دوه اړخيزو اړيکو د مخينې ښارندويي کوي.

وروسته بيا د دواړو هېوادونو رسمي ډيپلوماتيکي اړيکې له ۱۹۵۵ کال څخه د سفيرانو له تبادله کېدلو سره پيل شوې.

په تاريخي توګه افغان-چين اړيکې په دوو پړاوونو وېشلی شو:

د سړې جګړې پرمهال اړيکې (۱۹۵۰-۱۹۹۱)

او له سړې جګړې وروسته اړيکې (۱۹۹۱-۲۰۱۵)

## د سړې جګړې پر مهال افغان-چین اړیکې (۱۹۵۰-۱۹۹۱)

په دې پړاو کې افغان-چین اړیکې په تېره بیا د چین، افغان ستراتېژۍ له نړیوال سیاست څخه اغېزمنه وه. د دغه پړاو په پیل کې چین له افغانستان سره فرهنګي روابط زیات کړل، وروسته یې چې څرنګه له شوروي سره اړیکې د خرابېدو په لور ولاړې، نو چین په افغانستان کې پانګه اچونه، پر بېلابېلو پروژو کار او مرستې پیل کړې.

افغانستان هم، د خپل ملګري شوروي په امنیتي کمربند کې برخه وانه خېسته؛ بلکې استدلال به یې کاوه، چې کابل به هېڅکله هم د یوه داسې امنیتي کمربند برخه نه شي، چې د چین پرخلاف رامنځته شوی وي.

د سردار داوود خان له کودتا سره چینایان اندېښمن شول، چې ګویا دا کودتا به د شوروي د لاربښوونې او خوښې له مخې شوې وي؛ خو سردار داوود خان بیا وروسته خپل ورور او د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر، سردار محمد نعیم چین ته واستاوه او هلته یې د چینایانو دغه اندېښنې ختمې کړې او په پایله کې یې چینایانو په افغانستان کې په نورو پروژو هم کار پیل کړ.

چین د شورویانو د یرغل (۱۹۷۹) پرمهال د شورویانو په پرتله امریکا ته ډېر نژدې شوی و، او له شوروي سره یې اړیکې ډېرې خرابې وې. چین د شورویانو دغه یرغل ته له چین څخه تاو شوي کمربند په سترګه کتل؛ له همدې کبله یې نه یوازې دا چې د شورویانو یرغل وغانده، بلکې له افغان مجاهدینو سره یې هم پراخې مرستې وکړې.

## له سړې جګړې وروسته اړیکې (۱۹۹۱-۲۰۱۵)

د شورویانو له وتلو وروسته چې کله په افغانستان کې کورنۍ جګړه ونښته؛ نو چینایانو هم په کابل کې خپل سفارت وتاړه او وروسته چې کله په افغانستان کې طالبان د افغانستان په ډېرې سیمو واکمن شول او ترځنګ یې یو شمېر ایغوري مسلمانانو هم په کابل کې پناه واخېسته، نو له چین سره وېره پیدا شوه؛ ځکه هغه مهال د چین په سنکیانګ ایالت کې وسله واله مبارزه پیل شوې وه او ترځنګ یې د دغې وسله والې مبارزې ډېرې مشران هم په افغانستان کې وو. د دې ترځنګ د چین بله وېره د نشه یي توکو له قاچاق څخه وه، چې بیا هم د دوی په ګمان ګټه یې همدغو وسله والو غورځنګونو ته رسېده. همدا دوه لاملونه وو، چې چین له روسیې سره یوځای د شانګهای-پنځه سازمان رامنځته کړ او وروسته بیا د شانګهای د همکاریو پر سازمان بدل شو، چې موخه یې د "تروریزم" او نشه‌یي توکو مخنیوی و.

ACKU

د چین له دغو وېرو او اندېښنو سره سره، بیا هم د طالبانو او چین ترمنځ یو پټ تفاهم موجود و. د طالبانو د واکمنۍ یو جګپوړی چارواکی ملا عبدالسلام ضعیف په خپل کتاب کې لیکي، چې یو ځل له ده سره چینايي سفیر د ملا محمد عمر د لیدلو لپاره ولاړ او هلته ورته ملا محمد عمر ډاډ ورکړ، چې د افغانستان خاوره به د هېڅ ګاونډي پرخلاف استعمال نه شي. ښايي همدا لامل به وي، چې چین په افغانستان کې یو ډېر محتاط دریځ خپل کړی. که څه هم چین د امریکا او ناټو د "تروریزم" ضد جګړې ملاتړی دی؛ خو تر اوسه یې نه یوازې دا چې په آیساف کې د خپلو پوځیانو شتون او افغانستان ته خپل پوځیان رالېږل رد کړي دي، بلکې د طالبانو پرضد یې کومه اعلامیه هم نه ده خپره کړې.

## حامد کرزی؛ د نویو اړیکو بنسټګر

که څه هم ځینې شنونکي د پخواني ولسمشر حامد کرزي پر داخلي پالیسۍ نیوکه لري؛ خو د ځینې هېوادونو په اړه د کرزي بهرنۍ سیاست په تېره بیا د ده په دویمه دوره کې د ستایلو وړ دي. ده له امریکا سره د اصولي اختلافاتو له کبله د سیمې د ځواکونو لکه چین، هند او روسیې په لور پاملرنه زیاته کړه[1].

د افغانستان او چین ترمنځ اړیکې د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال له بل هر وخت زیاتې غوړېدلې دي. په دغه دوران کې د اړیکو د رغولو په اړه ډېرې هڅې هم، د افغانستان له خوا شوې دي؛ ځکه خو د افغانستان له خوا حامد کرزي چین ته پنځه ځله سفرونه کړي؛ خو د چین کوم جګپوړی چارواکی افغانستان ته لاهم نه دی راغلی.

کله چې له امریکا سره د حامد کرزي اړیکې خرابې شوې او پر کرزي به د ۲۰۰۹ کال د انتخاباتو له کبله ډېرې نیوکې کېدلې؛ نو حامد کرزي له چین سره د اړیکو د لا ښه کولو هڅه وکړه او په همدې موخه، په ۲۰۱۰ کال کې په څلورم سفر چین ته ولاړ او همدا راز یې د خپلو نورو سفرونو ترڅنګ په سیاسي توګه هم، چین په افغانستان کې زیات رادخیل کړ.

## چین؛ د اشرف غني د کورني او بهرني سیاست مهم لوبغاړی

دا چې اشرف غني ته چین څومره ارزښت لري، یوازې له همدې هم جوتېږي چې ده خپل لومړنی بهرنی سفر له چین څخه پیل کړ او له چین څخه یې وغوښتل، چې د افغانستان د سولې په پروسه کې رول ولوبوي. چین هم په همدې

[1] په دې اړه د حامد کرزي یوه ناکامي له پاکستان‌سره خرابې اړیکې دي، چې باید ده د ملي ګټو په رڼا کې د پاکستان او هند ترمنځ توازن ساتلی وای.

موخه دا مهال له طالبانو سره خبرې اترې پيل کړې دي او چينايي چارواکو په دې اړه په قطر کې د طالبانو د رسمي سياسي دفتر له پلاويو سره دوه ځله په چين کې کتلي دي؛ خو لاتراوسه د دغو سفرونو او ناستو جزئيات نه دي برسېره شوي.

چين له افغانستان څخه د ناټو او امريکايي پوځونو له وتلو سره په دغه هېواد کې د ځواک تشه ويني او همدا لامل دی، چې چين دغه حالت ته د يوه فرصت په سترګه ګوري. له همدې کبله چين له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې له افغانستان سره تر ۲۰۰ مليون ډالرو زياتې مرسته کړې دي؛ خو چين ته د اشرف غني د سفر پرمهال يې، په لومړي ګام کې د راتلونکو درېيو کلونو لپاره له افغانستان سره ۳۳۰ مليون ډالره مرستو ژمنه وکړه. اشرف غني چين ته په خپل لومړني سفر سره له يوې خوا د دوه اړخيزو اړيکو يو نوی فصل پرانېست او له بلې خوا يې د اوږدمهاله اړيکو لپاره هم زمينه برابره کړه.

دا چې په ارګ ماڼۍ او د افغانستان په بهرنيو چارو وزارت کې د افغانستان او چين د اړيکو د شپېتمې کليزې د نمانځنې په موخه پروګرامونه ترتيب شوي وو، په پراخه کچه له چين سره د ښو اړيکو لپاره د افغاني لوري د لېوالتيا او ارزښت ښودنه کوي او لکه څرنګه چې ولسمشر غني د افغان-چين اړيکو د شپېتمې کليزې او پښتو-چينايي قاموس د چاپېدو په نمانځغونډه کې هم اشاره ورته وکړه، دا مهال د افغانستان د سولې د پروسې په تړاو، د چين مثبت رول ته هم هيلې زياتې شوې دي.

په ټوليزه توګه که د افغان-چين اړيکې تر څېړنې لاندې ونيول شي؛ نو جوته به شي، چې که څه هم دواړو هېوادونو تاريخي اړيکې درلودلې دي؛ خو په ډيپلوماتيک ډګر کې د تېرو څو لسيزو په اوږدو کې چين افغانستان ته لږ ارزښت ورکړی او همدا راز افغانستان هم د خپلو نورو ګاونډيانو په پرتله چين ته «ثانوي حيثيت» ورکړی و. مګر په وروستيو کلونو کې نه يوازې دا چې دلته د چين لېوالتيا زياته شوې، بلکې دلته يې ګټې هم زياتې شوې دي، چې په واقعي توګه د چين په دريځ کې د بدلون ښودنه کوي؛ ځکه په چين کې اوس ستراتېژيو بدلون موندلی او اوس (د غرب په لور د تګ) پر کړنلاره بوخت دي، چې په دې جمله کې يوه هم د ورېښمو نوې لاره او بل د پاکستان-چين د انرژۍ حوضه د يادونې وړ دي.

د دې ترڅنګ چين د خپل امنيت او اقتصادي پروژو د بشپړېدو په تړاو هم، د افغانستان سولې او ثبات ته اړتيا لري او همدا لامل هم دی، چې اوس يې د افغان حکومت په غوښتنه له طالبانو سره خبرې اترې پيل کړې دي.

# کابینه؛ دیر آمد درست نیامد!




روال کار حکومت‌داری در نظام‌های دیموکراتیک بر اینست که وقتی یک حکومت جای خود را به حکومت جدید می‌دهد، یکصد روز نخست کاری حکومت جدید دورانی است که در آن خطوط اساسی کار حکومت مشخص شده و نخستین قدم‌ها در جهت رسیدن به اهدافی که دست‌اندرکاران حکومت در دوران انتخابات به مردم وعده داده بودند، برداشته می‌شود.

در چنین نظام ها، صد روز اول کار حکومت معمولا در محبوبیت رئیس حکومت و اعتماد مردم به حکومت جدید در مقایسه با دوران انتخابات تغییر منفی چشمگیر به ملاحظه نمی‌رسد، زیرا مردم هنوز زمان را برای دسترسی به اهداف وعده داده شده کافی نمی‌دانند و امیدوار به آینده باقی می‌مانند.

ACKU

## کاهش اعتماد مردم بر حکومت وحدت ملی:

یک نظر سنجی که در پایان صد روز اول حکومت جدید صورت گرفت نشان داد که اعتماد مردم به دو رهبر حکومت وحدت ملی بشدت صدمه دیده است. دلیل این امر نیز تأخیر در اعلام کابینه بود.

مردم به این باورند که پروسۀ زمانگیر انتخابات و بعد از آن تأخیر در کابینه، موجب بدتر شدن شرایط امنیتی و اقتصادی و رشد بی‌کاری، در کشور شده است. حتی در داخل پارلمان هم صدای مخالفت با هر دو تیم به گوش می‌رسید و نهادهای جامعۀ مدنی هم تهدید به تظاهرات علیه حکومت وحدت ملی کردند.

در ابتداء گفته می‌شد که دلیل این تأخیر، دقت در گزییش شخصیت‌های مناسب برای پُست‌های کابینه است، اما وقتی انتظار مردم از حد معمول طولانی‌تر شد، شایعاتی مبنی بر اختلاف میان رئیس جمهور ورئیس اجرائیه بر سر زبان‌ها افتاد که بدور از حقیقت هم نبود. در این میان شایعاتی هم به گوش رسید که گویا حکومت وحدت ملی به طالبان هم پیشنهاد کرسی در کابینه را نموده است و انتظار جواب از جانب آنان را دارد. این شایعه را طالبان با صدور اعلامیه‌ای بشدت رد کردند.

رهبران هردو تیم وعده داده بودند که چند اصل را در گزینش وزرا در نظر خواهند گرفت:

- اصل تخصص و مدیر و مدبر بودن.
- ترکیب قومی کابینه.
- وابستگی‌های سیاسی.
- متهم نبودن در فساد.
- سابقۀ وزرات نداشتن در سیزده سال گذشته.

مشاور رئیس جمهور در امور حقوقی، یک روز قبل از اعلام کابینه به صراحت گفت که نفوذ افراد زورمند یکی از دلایل تأخیر در اعلام کابینه بود. وی از این افراد زورمند نام نبرد.

## پس از ١٠٤ روز:

۱۰۴ روز پس از حلف وفاداری رئیس جمهور، سرانجام نام‌های اعضای کابینۀ حکومت وحدت ملی معرفی گردید و به انتظار مردم پایان داد. اما پایان انتظار به معنای پایان نگرانی مردم از آینده نبود. سوال عمده این بود که آیا برای معرفی چنین کابینه‌ای این همه درنگ موجه بود؟

این ادعا که درنگ و تأخیر بخاطر رای زنی در گزینش شخصیت‌های کارفهم و پاک‌نفس بود، زمانی به شدت زیر سوال رفت که مشخص شد که کاندید وزیر وزارت زراعت به اتهام فرار از مالیات در کشور استونی، در لیست افراد مطلوب پولیس بین‌المللی (انترپول) قرار دارد. آیا برای شناخت دقیق‌تر از اعضای کابینه، حتی به لیست افراد تحت پیگرد در سطح بین‌المللی نیاز احساس نشد؟

جیلانی پوپل کاندید وزیر وزرات مالیه خودش منصرف شد و اکلیل حکیمی سفیر افغانستان در امریکا، جانشین وی گردید. جای محمود صیقل را که بحیث وزیر آب وبرق معرفی شده بود، شخصی به نام عبدالرحمن صلاحی گرفته است که در جریان معرفی به پارلمان حضور نداشت. این مسئله هم نشان می‌دهد که تأخیر در اعلام کابینه بیشتر به زدوبندها میان گروه‌ها رابطه داشت، نه به دقت دو تیم برای گزینش چهره‌های خوب و کارفهم.



ACKU

شکی نیست که وقتی دو تیم رقیب مجبور می‌شوند تا با هم حکومت مشترک بسازند، بروز اختلافات میان آنان طبیعی است، اما اکنون مشخص شده که دلیل این تأخیر بیش از اینکه ناشی از اختلاف میان دو طرف بوده باشد، ناشی از فشارهایی بود که برای گزینش افراد از جانب زورمندان اعمال شد. مشکل حکومت وحدت ملی تنها در اختلاف میان سران دو تیم خلاصه نمی‌شد. اختلافات میان‌گروهی هم تاحدی مشکل آفرین شد، زیرا دو تیم در جریان انتخابات به اعضای خود وعده‌هایی داده بودند که در صورت پیروزی یکی از آنها می‌توانست قابل عملی شدن باشد، اما وقتی قرار شد تا کرسی‌ها به دو قسمت مساوی تقسیم گردد، تحقق این وعده‌ها مشکل شد.

## مشکل کابینهٔ پیشنهادی با پارلمان:

روز سه شنبه ۲۰ جنوری اشرف غنی احمدزی خود به پارلمان رفت، تا کابینه را به نمایندگان معرفی نماید. در نشستی که به همین منظور در ولسی جرگه دایر شد، اشرف غنی برخلاف معمول با همه وکلا دست داد که زمانگیر شد و سپس مدت دو ساعت به تشریح برنامه‌های حکومت خود پرداخت. او به وکلا خاطرنشان ساخت که به فیصلهٔ آنها درمورد کابینهٔ پیشنهادی‌اش احترام می‌گذارد.

در این کابینه هرچند طبق وعده از افرادی که سابقهٔ وزارت داشتند کسی دیده نمی‌شود؛ اما از چهره‌های پیشین، معاونین وزرا را می‌توان یافت. همانگونه که می‌دانیم وزیر بیشتر یک پُست سیاسی است و در گذشته هم بیشتر کارهای اجرایی به دوش معاونین وزرات‌خانه‌ها بوده است.

اما اعضای ولسی جرگه از قبل گفته بودند که به نامزدوزیرانی که تابعیت دوگانه دارند، رای نخواهند داد و حتی مانع از آمدن آنان به تالار ولسی جرگه خواهند شد. اگر وکلا به این تعهد خود استوار باقی بمانند، بیش از نیمی از این کاندید وزیران شانس رسیدن به کرسی وزارت را نخواهند داشت.

اعتراض دیگری که تعدادی از وکلای ولسی جرگه مطرح کرده‌اند موضوع عدم توازن قومی در کابینه است. مسئله‌ای که در خارج از ولسی جرگه هم به اعتراض مواجه شده است. محمد اسماعیل وزیر سابق آب وبرق و یکی از چهره‌های پرنفوذ مجاهدین که در جریان کمپاین انتخاباتی از داکتر عبدالله حمایت کرد در مصاحبه با یک تلویزیون خصوصی، از اینکه جای مجاهدین سابق در سکتورهای امنیتی کشور را چپی‌ها گرفته‌اند، و نیز از اینکه از چندین ولایت مهم در غرب کشور هیچ فردی در کابینه حضور ندارد، انتقاد کرد و این حکومت را «مصلحتی» خواند. او حتی مشروعیت حکومت وحدت ملی را نیز زیر سوال برد.

ACKU

از طرف دیگر افرادی در پارلمان، تیم رئیس جمهور را متهم کردند که به وکلا پیشنهاد رشوه داده‌اند تا به افرادی که رئیس جمهور می‌خواهد رای اعتماد بدهند و کسانی را که رئیس جمهور نمی‌خواهد، رد کنند. با این اتهام، رد شدن نامزد وزیران وابسته به تیم داکتر عبدالله می‌تواند موجب اختلاف میان دو طرف گردد و روی همکاری‌های این دو تیم در آینده، تأثیر منفی برجا بگذارد.

در زبان دری ضرب‌المثلی است که می‌گوید «دیر آید درست آید» اما کابینهٔ حکومت وحدت ملی برعکس این ضرب‌المثل دیر آمد اما درست نیامد.

پایان

ACKU

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: (93+) 784089590